اکادمسین سلیمان لایق

# د لنډیو ماخذونو ته یوه کتنه

[۴]

د «آ» د سریال په «۱۴و ت»، «۲۱، ت»، «۲۵، ت»، «۷۰، ت»، «۷۹، ت» او «۸۸، ت»او د نورو سریالونو یو لړ نسخوکې همداسې بدلونونه راغله، یعنی ځیني بېځایه ګړې بدلې شوې، په څلورسځوکې بشپړ منطق رامنځ ته شو، یو راز اصلاح غوښتونکې نقصان چې په ټولو سریالونوکې لیدل کېږي دادی چې «ای» پرځای «این» کارول شوی دی:

این کوتل دم ګیر ک د مکمه بګیر،
این بچه عمکی دستکمه بګیر، (۲۸، ت)

په پورتنیو مصرع ګانوکې د تېروتنې له مخې د ندا لپاره د «این» د ګړې د کارولو احتمال رامنځ ته شوی دی. دا عارضه په وګړنیزو څلورسځوکې په پراخه توګه لیدل کېږي او د خلکو د نظم د ژبې د ځانګړې خصوصیت په ډول، ځانګړې څېړنه غواړي. موږ چې د ترتیب شویو نسخو د کره

کولو ذمه پخپله غاړه اخیستي وه، د دې عارضې څېړنه مو بل وخت ته پرېښوده خو په ضروري برخو کې مو د نورو ښو په اساس د «این» پر ځای «ای» وکاراوه.

ځینې ګړې (الفاظ) د ویونکو له خوا د خپل مقصد د افادې لپاره د څلوریځې له عمومي مضمون سره د سر نه خوړلو باوجود کارول شوې دي، مثلاً په غنایي څلوریځو کې د «یار» ځای «طفا» یا «اکه» نیولی دی چې «۲۳، ت» د هغه نمونه ده.

در پشتک آسیا مرمیجان ای،
در درون اداره طفا جان ای،
جان ای، جان ای، گردلوش مرجان ای،
یک خال سیاه دارد، بلای جان ای،

په نتیجه کې د دوهمې مصرع د «طفا جان پر ځای» «بچه جان» وکارول شو څلوریځه روغه شوه.

د «۲۸۵، ت» په لومړی مصرع کې «اگر» په «هرگز» واړول شو هغې په وینا کې ښکلا او د بیان په آهنګ کې تاکید رامنځ ته کړ.

د «۲۹۸، ت» په دریمه مصرع کې هم د «که» بدلیدل په «چو» د وینا د سمېدو موجب شوه.

که لاله سر برآورد، بی بقا شد

په «۳۷۹، ت» کې د پیاوړو اصطلاحاتو د کارولو په واسطه د مضمون د قوي کولو پېښه لیدل کیږي لیکن په لاس ته راغلې نسخه کې انعکاس نه لري.

من میروم، شما منه یاد کنید

تابوت مره از چوب شمشاد کنید،
شمشاد شکند چوب سفیدار کنید،
گیرون، نالان به فاتحه یاد کنید.

د «شمشاد ماتېدلو» ورسته د سفیدار ونې ته هیله کول په مضمون کې یو راز نقص دی. د دغو نسخو په ژبه کې د راز راز لهجو نښې هم ایدل کېږي چې دا هم یو وړ ناسموالی دی.

موجوده بڼو په لاندې ډول د څلوریځې د کره کولو امکان رامنځ ته کړ:

من میروم (ی) خویشان مرا یاد کنید،
تابوت مره ای چوب شمشاد کنید،
شمشاد شکند، تمور و پولاد کنید،
در خاک خنک مانید و فریاد کنید.

د ګړو د بیلېدو یو سبب د وړو په وینایي ژبه کې د دغو ګړو نادودي ده کومه چې د دغو کرښو مؤلف د هغوی باره کې پخپله یوه مقاله کې توضیح ورکړې وه [۱].

په مقاله کې کښل شوي وو چې د ډېرو نسخه ایزو دوو څلوریځو په زیاترو بڼو کې د «حبل» محبت او پیغام د کلمو پر ځای د «بلبل» او «خبر» له کلمو څخه استفاده شوې ده، په لومړي مورد کې همغږي او په دوهم مورد کې هم معنایي د دې استفادې سبب شوې ده، لیکن له دې کلمو څخه د بیځایه استفادې په وجه د څلوریځې په منطق او وزن کې عیب پیدا شوی دی.

د «۲۷۰، ت» د لومړی مصرع کې په اکثرو نسخو کې د زمن ګړه (لفظ) «زمین» شوې ده او د هغې د اغېز

له مخې لومړی مصرع هم بدله شوې ده :

شینی به زمین، زمین سلامت بادا

دا مصرع په لاندې ډول کره شوه

دوری زمن و زمن سلامت بادا،

جان و دل من فدای جانت بادا،

من بیتو نفش نمیگیرم در عالم،

بی من تو نفس کیری، حرامت بادا

په دې ډول د څلوریځې د اصلاح په باره کې د هغې عمومي مضمون ته پاملرنه ځانګړی اهمیت لري. یوائې په همدې طریقه په څو څو څلوریځو کې د اصلی منطق بر قراره کول شوني شول.

بې منطقي د ځینو څلوریځو په مصرع ګانو کې د موضوع د بدلون په سبب رامنځ ته شوې ده، په دې باره کې «۳۴۲، ت» ښه مثال دی:

جانانه شراب میخوری، میگذرد،

صد نقل و کباب میخوری ، میگذرد،

ما پارچه به نان خشک قناعت کردیم،

تر کرده به آب میخوری، میگذرد.

د دې تیپ د ګڼې شکل په اساس سړی داسې فکر کوي چې دا رباعي په اصل کې ټولنیز مضمون لري، په هغې کې د ټولنیزو طبقو د ژوند وضعیت ته اشاره شوې ده او تر دې ور هغه خوا داسې ښکاریږي چې نوموړې څلوریځه له قلم کارو سره تعلق لري.

شاها ، که شراب میخورد ، میگذرد،

SPINTA

منعین (۲)، کباب میخورد، میګذرد،
مشفق، که به ګوشه قناعت نان را،
تر کرده، به آب میخورد، میګذرد

د خلکو تر منځ، د دغې څلوریځې غنایي بڼه مشهوره شوې ده یا په بله ژبه دا څلوریځه عشقي شوې ده. موږ له همدې کبله، دغه کره شوې نسخه بدله نکړه او په هغې کې مو یوائځې بې منطقي لرې کړه. مراجعه وکړئ «۳۴۲، ت» ته.

د ډلوریځو هغو نسخې چې په کلیات کې راټولې شوې دي په دوو لهجو دي. ادبي لهجه او عامیانه لهجه(۳). د څلوریځو له نسخو څخه ۱۰۱ نسخې یې په ادبي لهجه او ژبه هست شوې دي او د هغوی کره نسخې همدې لهجه او ژبه کې سنبال شوې دي.

زیاتره سموني چې په ادبي نسخو کې شوې دي د ګړیدا په طرز پورې اړه لري، مثلأ «او»ـ«و»، «را»، «ره»، «از»، «ای» او نور چې د ژبې د عمومي ځانګړتیا په اقتضا د ادبي ګړیدا (تلفظ) د متن په ژبه کره شوي دي. مثلأ لاندینۍ څلوریځه «۹۴، ت» به وګورو، دا څلوریځه په داسې لهجه ثبت شوې وه چې په هغو کلمو کې کومې چې لاندې په ځیره لیک لیکل شوې دي د «و» توری نه تلفظ کېږي:

گرما شوی، نظر به رویت نکنم،
گر آب شوی، کوزه بجویت نکنم،
گر دسته ګل شوی و افتی به زمین،
بالله به خدا، ګرفته بویت نکنم

SPINTA

په اصل کې د دې څلوريځې ادبي او سپېدل څرګند دي نو بنا پر دې د «رو»، «کوزه»، «جو»، «بو» تلفظ په ادبي ډول کره شو او دې کار کې د لاندينيو کلمو او د هغوی د امثالو پر ځای لکه «لو»، «آو»، «کلاو» (۳۴، ت)، «دره» (۷۲، ت)، «خولين» (۱۴۴، ت)، «حقيق» (۲۴۶، ت)، «اخګر» (۲۵۳، ت)، «شوه» (۳۰۰، ت)، «ګناه» (۳۲۲، ت) د کلمو عادي بڼه لکه «لب»، «آب»، «کولاب»، «حولی»، «عقيق» او نور غوره شول او په دې ډول په ځينو نسخو کې نه تش اعتدال بلکې د وينا اصلي ښکلا رامنځ ته شوه.

په هغو نسخو کې چې د لهجې پر اساس عيار شوې دي د فعلي او خبري بند کونو د لهجه يي تلفظ د ساتلو د ضرورت په خلاف يعنی په «وم»، «اوش»، «اوت» بانديې د «ام»، «اوش»، «ات»

بدلول هم رانځ ته شول. ضمنأ د رباعي د ژبې او وزن په اقتضا، د ځينې غږونو لنډون، اختصار هم رامنځ ته شو. مثلاً سياه «سيا»، «په»، «بی»، «شهر» «شر»، «اين» «ای»، «چوب» «چو» او په نهايت کې په يو شمېر ګړو ۰ کلماتو) کې د غږ ځای بدل شو «دلم» «دلمه».

زموږ په نظر له دغو نسخو سره د ادبي نسخو د مقايسې له لارې د مضمون، بديعي تصويريرونو او شفاهي آثارو د خاصو ځانګړنو له پلوه عجيبې نتيطې لاس ته راتلی شي.

د کره شويو نسخو دريم ګروپ هغه دی چې ادبي او عاميانه ژبې يي سره يو ځای کړې دي. صقوي په بشپړه توګه

ادبي او یا عامیانه ته ور واړول او کره کول شوني نه وو. په هغه حال کې به د وزن او قافیې تغیرات او د وینا تناسب عیبجن کېدل. د مثال لپاره لاندینۍ نسخه وړاندې کوو کومه چې په عامیانه ژبه د هغې په هستېدو کې کومه شبهه منځ ته نه راځي:

بام همه بام و بام ما در پستی
یار همه یارو، یار ما المستی
مردم میگن «المستی؛ چه دل بستی؟»
تقدیر خدا بو دست، زدیم در پستی، «۲۸۲، ت»

که موږ د «مردم میگن» پر ځای «مردم میگویند» ولیکو، اضافګي هجاګانی رامنځ ته کېږي او وزن ته خلل رسېږي. خو د دې باوجود په ځینو داوړ نسخو کې ادبي تلفظ (البته د موجودو نسخو په اساس) برقرار شو په تېره په نوموړې نسخه کې «المستی» په «البستی» بدله شوه، دا ځکه چې «البستی» له نورو قافیه لرونکو ګړو (پستی، دل پستی) یره لا ښه جوړېږي، یو ښکلی او ښه آهنګ رامنځ ته کوي.

په ګردو سریالونو کې تر ټولو کمه دغو نه په قافیه کې وشوه، په بهو کې د قافیې ثبات سړی دې نتیجې ته راولي چې څلوریځې تر ټولو هم شرط د هغې د قافیې یادول دي. ویونکې کوشش کوي چې دقافیې ورانېدو ته لار ورنکړي په بل عبارت بې قافیې څلوریځه (په عمومي توګه هر بې قافیې نظم) شعر نه بلل کېږي، ځکه خو د څلوریځې هر اجرا کوونکې د قافیې ساتلو ته پاملرنه کوي.

زموږ منظور دلته د وګړنیز نظم ځانګړې قافیه ده چې د

دې نظم د خاصو قانونونو په اساس بڼه غوره کوي، یعنی هغه قافیه چې غاړه ایز خصوصیت لري او د غږونو په جوړولو کې ځان ښیي او له لیک او املاء سره علاقه نه ښیي. خو د دې ځانګړني باوجود په یو لړ لاس ته راغلیو نسخو کې د قافیو کره کول لازم شول لیکن ځیني نسخو ته د مکملې قافیې ننه ایستل نا شونې شول، مثلاً داسې څرګنده شوه چې د «۵، ت» په ډلرمه مصرع کې که د «باشد» د کلمې پر ځای «پاشد» کارول شوې وای هم به قافیه او هم به د وینا منطق لا ښه شوی و:

در باغوت نمیدآرم، کورتم تنګ ای،
بچه ته نمیگیرم، دلم خنک ای،
یک یار گیروم، که یار یاران باشد
سر تا قدمش نقره طلا باشد

زمونږ عقیده دا ده که څلرمه مصرع په لاندې ډول لیکل شوې وای، هم به قافیه کره شوې وه او هم به د مصرع ګانو تر منځ منطقي تړاو او پیاوړی شوی و:

سر تا قدموم نقره و طلا باشد

اما مونږ په هیڅ بڼه کې له داسې مصرع سره مخامخ نشو، هغه سمونې چې کره شویو نسخو ته داخلې شوې دي هیڅ کله دا معنی نلري چې د بڼو له ګروپ څخه د هغوی تر ټولو سمه نسخه غوره شوې او کره شویو څلوریځو ته انتقال شوې ده. که واقعاً داسې اصول غوره شوي وای کار به ډېر آسان شوی و. لیکن دا هغه قواعدو خلاف دی چې مونږ د کره نسخو په برابرولو کې غوره کړي دي. زمونږ غوره شوي

SPINTA

اصول د فلکلور اسنادو په اړه عیني منایبت په نظر کې نیسي.
موږ باور لرو چې لاس ته راغلې کره شوې نسخې د وګړنیزو ډلوریځو د زیاتو ځانګړنو کره کولو ته خدمت کولای شي.

په پای کې موږ غواړو پر دې خبره ټینګه کړو چې د کمې تحلیل د اصولو له کارولو پرته د وګړنیزو څلوریځو د کره نسخو ترتیبول نا شونی کار و. دا حقیقت په عین زمان کې د دې شاهد دی چې د خلکو په سعي او پاملرنه شعر خپل اصلي حالت ساتي او زموږ دغه مفکوره څلوریځې د زیاتو تکرارېدونکو مصرع ګانو له لورې چې د هغوی د کره نسخو د لاس ته راتګ اساس دی په ښه توګه تصدیق کېږي.

د کره نسخو برابرول او په عمومي ډول د تاجیک د وګړنیزو څلوریځو تر ټولو د مشهور څلور ټوکیز کلیات برابرول چې یوازې د ( ۲۵۰۰۰۰ کارتونو) د ستر کتلاک په بنیاد ممکن شو، ډېر ستونځمن، زیارن او دقت غوښتونکې کار و.

---

۱ـ رجب امانف، اجادیات بدیعی خلق و زمان، نشریات «عرفان» دوشنبه ۱۹۷۰ ص ۱۶۰ و ۱۶۱.

۲ ـ د ګړې سمه بڼه، منعم دی چې د نعمت د خاوند معنی ورکوي.

۳ ـ ادبي ژبه او محاوره یې ژبه ... لایق

SPINTA